میوند پتمن

۲۰۱۳/۰۹/۳۰

# نه ښنونکی او نه هیرودونکي جنایت

په۱۳۵۷ لمریز کال د ثور د اوومي نیټې په کودتا کې زما پلار د شهید محمد داوود خان د حکومت په دوران کې د پکتیا ولایت والی وو.

زموږ پلار د خلق رژیم کسانو له خوا ونیول شو له ګردیز څخه یې کابل ته راوست.لومړۍ ځل یې زموږ پلار د افغانستان راډیو چې په اصطلاح د ثورانقلاب مرکز وو بیولې وو، کله چې اسلم وطنجار هغه په دهلیزکی لیدلی، خپله توپا نچه یې زما پلار خوا ته ونیوله چې د خائین رژیم والی په همدې توپانچه دی وژنم.

بیا زموږ پلار په دفاع وزارت، بالاحصار او پلچرخي زندان کي بندی پاتی شو.د ۱۳۵۷ کال په دوران کی مو ځوځلی کالی وروړل، مګر وروسته د پلچرخی زندان مشر قاتل سیدعبدالله راته وویل، چې ستاسو پلار له زندان څخه تښتیدلی.

ټوله کورنی د پلار په لټه کی شوه، کورنیو چارو وزارت ته ورغلو، په دغه وخت کې د افغانستان د خلکو قاتل اسلم وطنفروش وزیر وو، د تهدید په ژبه یی را ته وویل چې ستاسو خائن پلار تښتیدلي دي.

بلاخره د هیلو ټولي لارې زموږ د کورني په مخ وترل شوې. آخرین ځل، مور او زه دواړه حفیظ الله امین چې د باندنیو چارو وزیر وو، دفترته ورغلوو. د چارشنبی ورځ وه، موږ او یوه بله میرمن هم د انتظار په خونه کی ناست وو، د امین یاورموږته غږ کړل چې وزیرصاحب له تاسو سره ګورې موږ دواړه کورنۍ دفتر ته ورغلو.

امین لومړې ځوانی میرمنی ته مخ کړاو ویې پوښتل څه مشکل لری.؟

میرمنی وویل: خاوند مې داریانا الوتکي پیلوټ وو، ژوندي اومړې یی معلوم ندې امین ورته وویل هغه میره نه، ته ځوانه ښځه یی هرځوان ستاسره واده کوی، پدی خبره ښځه په ژړا اوچیغو شروع وکړه. د امین باډیګاردانو په یوه شیبه کی میرمن له دفتره وایستله. بیا یی زماڅخه وپوښتل ما، ورته وویل چې پلارمي بندی دی او تو له کیسه می ورته وکړله. امین په ځواب کې راته وویل چې خیر پلاربه دی خلاص شی مورمی ورته وویل چې اولادونه می کوچینیان اوپه کور کې سرپرست نلرو، دوه زامن می په حربې پوهنتون کی محصلین دې له بلی خوا د امنیت کسان مو زوروې، شپه او ورځ مو د کور مخ ته ولاړ وې. امین وویل زه به مرسته درسره وکړم دوه ورځې وروسته سهار وختې دواړه وروڼه په عسکرې جیپ کی د کور مخی ته راکښته کړل او د تل لپاره راوشړل. کله چیی روسان او ورسره ببرک کارمل راغلل د خلقیانو رژیم سقوط شو، ببرک کارمل په لومړیو کې یولست خپورکړل چې زما د شهید پلار نوم پکې پیدا نه کړل شو.

اوس هم زموږ کورنۍ دا د خپل انساني او اسلامی حق ګڼو، چې د خپل شهید پلار په هکله پوه شو، چې ولی، چیرته او د چا له خواشهید شو؟ زما پوښتنی ته باید د خلقي او پرچمی رژیم لوړ پوړې چارواکی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځواب ووايي. اوس هم د خلق گوند ۹۵فيصده د رهبري غړي ژوندي دي، دغه رهبران د نه ښونکی وژنو مستقيم او غيرمستقيم مسؤولين دي، دوې بايد د ټولو شهيدانو کورنيوته ځواب ووايي. هغه خلقيان، پرچميان چي دغه وژني په مستقيمه توگه ترسره کړي لکه اسدالله سروری محکمی ته ور وپيژني او دغه رهبران د شهيدانو او ټول افغان ملت څخه د خپلو جناياتو په خاطر رسمي معذرت او ښننه وغواړي.

په پاې کی د ښاغلی حامد کرزي څخه هيله کوو چی اسدالله سروري د خلق رژيم داگسا رئيس علني محکمه کړې او که محکمه کولاې يې نشي، بيا يې د هاگ محکمي ته ورمعرفي کړی.
لوې خدای تعا لی دی د افغان ولس ټول قاتلين تباه کړي٠
د ورک نوم شهيد محمد گل ابراهيم خيل کورنی
پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ